# ماشومانو مقدس کتاب

## وړاندې کونکے

# د خوښې زوئ
# نه غلام
# جوړيږی



لیکونکے: Edward Hughes

خیال: Byron Unger; Lazarus
Alastair Paterson

خوښونکے: M. Kerr; Sarah S.

ترجمه کونکے: Aim4Faith Ministries

مددگار: Bible for Children
www.M1914.org

©2024 Bible for Children, Inc.
تاسو دا قیصئ نقل کولے شئ یا چاپ کولے شئ خو دا خرڅولے نهٔ شئ.



اسحاق ډېر زيات خوشحال وو. ځکه چې د هغهٔ زوئ يعقوب په کور کښې وو. تر دې چې عيسو د هغهٔ ورور چا چې د هغهٔ د وژلو اراده کړې وه هغهٔ هم ورته هر کلے ووئيلو.

خو د يعقوب زامن خوشحاله نهٔ وو. ځکه چې د هغوئ کشر ورور يوسف پلار ته ډېر گران وو.



کله چې یوسف خپلو ورونو ته خپل خوب بیان کړو، نو د
هغهٔ ورونه ډېر زیات غصه شول. یوسف ووئیل چې زما د
غنمو ګېډئ نېغه ودرېله او زما د ورونو ګېډئ هغې ته د
عزت نه ټیټې شوې. او د دې خوب
معنی دا وه چې یوسف
به د خپلو ورونو
نه ډېر زیات
مهم وی.



3

د یوسف په دوېم خوب کښې
نمر، سپوږمۍ او ستورو
هغهٔ ته سجده وکړه، تر دې
چې د یوسف په دې خوب
باندې د هغهٔ پلار هم غصه
وو، چې هغهٔ د خپل مور
پلار او ورونو نه هم خپل
ځان اوچت کړو.



4

یوه ورځ یعقوب یوسف خپلو ورونو پسې پټو ته لاړو چرته
چې هغوئ خپل رمې څرولې. نو هغوئ ولیدل چې یوسف
راروان دے نو هغوئ خپلو کښې یو بل ته ووئیل چې راځئ
چې دا خوب لیدونکے خو نن ووژنو. خو یوسف د هغوئ
د دې خبرو نه نهٔ خبر.



5

خو بن آمین په دې خبره باند راضی نهٔ وو. هغهٔ ووئیل چې
مونږ. له د دهٔ وینه تویول نهٔ دی په کار، مونږ به دے دې
اوچ کوهی ته وغوزوو پرېږده چې هلته مړ شی. د بن آمین
دا خیال چې زهٔ به یوسف د
شپې د دې کوهی نه
واپس راوباسم.



6

نو کله چې
یوسف هغوئ خواته
راغلو نو ورونو یې
هغه ونیول او هغه
قمیص یې ترې وباسلو
کوم چې یعقوب د خپل
د خوښې زوئ له جوړ
کړے وو. بیا هغوئ
یوسف په هغه کوهی
کښې وغورزولو.



7

کله چې بن آمین هلته کښې موجود نهٔ
وو، نو هغه وخت هلته کښې یوه قافله
د مصر په طرف باندې روانه وه. نو
هغوئ ووئیل چې راځئ یوسف خرڅ
کړو. نو یهوده هغوئ سره خبره
وکړه او
یوسف
یې د سپینو زرو په شلو
سیکو باندې خرڅ کړو.



8

یوسف ډېره په بې وسئ او اوښکو سره وکتل، او په یو اوښ یې هغه د خپل خاندان او وطن نه لرې بوتلو.



9

آیا دا د یوسف قمیص دے؟ دا وینه ده. مونږ ته دا په یو ځنګل کښې ملاو شو. ظالمانو ورونو یې یعقوب ته دا ښه ورکړه چې هغه یقین وکړی چې د هغۀ د خوښې زوئ یو ځنګلی ځناور خوړلے دے.
یعقوب د خفګان نه خپلې جامې وشلولې او ماتم یې وکړو. او هیچا هم هغۀ له تسلی ورنۀ کړے شوه.



10

یوسف په مصر کښې ډېر ویرېدو ځکه چې هغه هلته کښې یک یواځې وو. او کېدے شی چې هغه کور پسې هم لیواله وو. خو هغه د هلته نه تښتېدے نۀ شو. او هغه د فوطېفار په کور کښې غلام وو. فوطېفار به لیدل چې یوسف به همېشه په هر کار کښې ډېر محنت کولو نو د هغۀ په یوسف باندې یقین وو.



11

یوه ورځ فوطیفار یوسف ته ووئیل، تۀ چې کوم کار کوې نو ښۀ د زړۀ نه یې کوې. خدائ پاک ستا مل دے. زۀ غواړم چې زۀ تا له د خپل ټول کاروبار ذمه واری درکړم، او تۀ زما د نورو ټولو کسانو مشر شې.



12

خدائ پاک د یوسف په وجه باندې فوطیفار ښۀ ډېر فصل او ډېر مال ورکړو. او یوسف خاص سړے جوړ شو. او تر اوسه پورې یې په هغۀ باندې یقین وو. او هغۀ به په وفادارئ سره د خدائ پاک خدمت کولو. خو په یوسف باندې یو مشکل راغلو.



13

د فوطیفار ښځه یو بد کرداره ښځه وه. او هغې یوسف نه د خپل خاوند ځائ غوښتلو. خو یوسف هغې ته انکار وکړو. هغۀ په فوطیفار باندې دې ظلم کولو سره د خدائ پاک خلاف ګناه کول نۀ غوښتل.



14













د خوښې زوئ نه غلام جوړیږی

دَ خدائ په کلام په مقدس کتاب کښې دا قیصئ

شته دے

پیدایښت ۳۷ پیدایښت ۳۹

"ستا دَ خبرو تشریح نُور بخښی ۔"
زبور 130:119

19



دا قیصئ مونږ ته زمونږ د حیرانونکی خدائ په باره کښې ښودنه کوې چې چا مونږ پیدا کړو او چې څوک غواړی چې هغه مونږ وپیژنو.

خدائ پوهیږی چې مونږ ډیر علط کارونه کړی دی، چې هغې ته هغه گنا وايې. د گنا مزدوی مرگ دے خو خدائ مونږ سره ډیره مینه کوې نو ځکه هغهٔ خپل یک یو زوئ راولیږلو چې هغه زمونږ د گناهونو د خاطره سزه وزغمې او په سولئ خپل ځان قربان کړې.او بیا عیسی د مړو نه ژوندے شو او آسمان ته لاړو. کهٔ تهٔ په عیسی باندې ایمان راوړې او د هغهٔ نه د خپلو گناهونو بخښنه غواړې نو هغه به تا ته بخښنه وکړې. هغه تا خواته راځی او ستاسو دننه به استوگنه کوی او تهٔ به هغه سره د همیشه د پاره ژوندے اوسیږی.

کهٔ تهٔ په دې ایمان لرې چې دا رښتیا دی نو خدائ تهووایه.خوږه عیسی زهٔ ایمان لرم چې هم تهٔ خدائ یې. تا زما د خاطره پیدا شوې او زما د خاطره مړ شوې او اوس تهٔ د تل د پاره ژوندے یې. زما په ژوند کښې راشه او زما گناهونه وبخښه، چې زهٔ هم د نن نه ژوندون ومومم او د همیشه د پاره تاسره یم. زما مدد وکړه چې زهٔ ستا تابعداری وکړم او ستا زوئ یا لور جوړه شم. آمین مقدس کتاب ولولئ او خدائ سره روزانه خبرې وکړئ، یوحنا۳:۱۲